مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

نجیب‌الله پاڅون

۲۰۲۶/۰۱/۱۲

# پر پښتو باندې رواني ملنډې؛

## تصادف که منظمه تګلاره؟

د تاریخ په اوږدو کې ځینې داسې لیکنې هم شته، که چېرې له پېړیو او نسلونو تېرې شي؛ خو خپل ارزښت له لاسه نه ورکوي او د هر نوي عصر پر ور بیا ودرېږي.

له دې ژوندیو او نه زړېدونکو لیکونو یوه هم د «پښتو ګرانه ده» تر سرلیک لاندې هغه لیکنه ده، چې نږدې اتیا کاله وړاندې د ستر پښتون، سیاستوال، مفکر او ملي مبارز اروابناد استاد وزیر محمد ګل خان مومند «بابا» له قلمه راوتلې.

مخکې له دې چې د ستر او ویاړلي مومند «بابا» یادي لیکنې ته راشو، غواړم د همدې پلمې له مخې د دې ورځو د ځینو ناوړه کړیو له لورې پر پښتو ژبه رواني ملنډو ته لنډ ځواب ووایم.

دوی له کلونو راهیسې د پښتو ژبې پر وړاندې دوه‌ګونې او سپک چلند کړی دی، که نن په پلازمېنه کابل کې د ځو لوحو «لیکدړو»، کوڅو او سیمو د نومونو د پښتو او دري لیکلو پلمه نیسي او ترې لانجې جوړوي، نو دا نوې خبره نه ده، له دې وړاندې هم پښتو ژبه په همداسې پلمو له ادارو، ښوونځیو، رسمي مکتوبونو، لوحو او ښاري نښو څخه شاته تمبول شوې وه.

نن چې په کابل کې د ځینو سیمو نومونه په دواړو رسمي ژبو «پښتو او دري» لیکل کېږي، دا د قانون، عدالت او ژبني توازن یو عادي او طبیعي عمل دی؛ خو همدا عادي عمل د ځینو ستمپالو کړیو لپاره د زغم وړ نه دی. دوی دا کار «تحمیل»، «سپکاوی» او «ستونزه» بولي، حال دا چې په اصل کې ستونزه ژبه نه ده؛ ستونزه هغه ذهنیت دی، چې یوازې خپله ژبه ویني او نورې ژبې نه شي زغملی.

که دا یوازې یو تصادفي حساسیت وای؛ نو غبرګون به محدود، لنډمهالی او بې‌نظمه وای؛ خو کله چې پرله‌پسې، همغږې او تکراري ملنډې، نیوکې او سپکاوي تر سترګو کېږي، نو دا نور تصادف نه شي بلل کېدای. دا یو منظم چلند دی، یوه حساب شوې تګلاره ده، چې موخه یې د پښتو خوږې ژبې د عام حضور کمرنګه کول او ورو ورو یې له ښاري، رسمي او ذهني فضا څخه شړل دي.

دا هماغه زوړ ذهني استعمار دی، چې ژبه د واک وسیله ګڼي. کله چې یوه ژبه په ښار کې نه لیدل کېږي، په لوحو کې نه وي، په رسمي فضا کې غلې شي، نو ورو ورو د خلکو له ذهنه هم ایستل کېږي. همدا هغه فورمول دی چې کلونه وړاندې هم کارول شوی او نن بیا په نوې بڼه تکرارېږي.

پښتو د افغانستان د اکثریت ژبه ده، تاریخي ژبه ده، رسمي ژبه ده او د دې خاورې د هویت ستنه ده. د دې ژبې حضور په کابل کې امتیاز نه دی، بلکې حق دی. هغه څوک چې دا حق د «ستونزې» په نوم یادوي، په حقیقت کې د برابرۍ، شراکت او ګډ ژوند له اصل سره ستونزه لري.

نو ځکه دا پوښتنه پر ځای ده: پر پښتو رواني ملنډې؛ تصادف که منظمه تګلاره؟ هغه څه چې موږ یې نن وینو، له نښو، تکرار او همغږۍ ښکاري چې دا یو تصادفي غبرګون نه، بلکې د ژبني سپکاوي یوه منظمه او هدفمنده هڅه ده؛ خو تاریخ ښودلې، چې ژبې په ملنډو نه ورکېږي، او ملتونه د خپلې ژبې په سپکاوي نه چوپېږي.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

پښتو دلته وه، شته ده او وي به؛ او هر هغه ډله او لړه‌کیان چې د سپکاوي له لارې د درنې او سپېڅلې پښتو ژبې کمزوري کول غواړي، په پای کې به خپله مخ تورن او رسوا وي.

له دې ټولو سره سره د مومند صیب د «پښتو ګرانه ده» کتوره لیکنه د هغو کسانو پر وړاندې ښکاره او کلک ځواب دی، چې نن شپه او ورځ پر پښتو ژبه ملنډې وهي، سپکاوی یې کوي او هڅه کوي دا ژبه «ناکارنده»، «شاته پاتې» او «بې ارزښته» وښيي. تاریخ ښودلې، چې ژبې نه سپکې کېږي؛ خلک سپکېږي. څوک چې پښتو ته سپک ګوري، په حقیقت کې خپل ځان سپکوي.

دا لیکنه یوازې د یوې ژبې دفاع نه ده؛ دا د یو بشپړ نظام، یو کلتوري هویت، یو اخلاقي دریځ او یو تاریخي وجدان ځرګنده ننېنه ده. وزیر بابا په داسې وخت کې دا خبرې لیکلي، چې پښتو ژبه په خپل وطن کې او په خپله خاوره کې له ادارو، ښوونځیو، رسمي ډګرونو، واک، او فرهنګي بنسټونو څخه په قصدي توګه شړل کېده او د یوې پردۍ ژبې په سترګه ورته کتل کېدل.

نن له بده مرغه، هماغه دوه‌ګونی چلند نه یوازې پاتې دی، بلکې د ځینو ناروغو ذهنونو، متعصبو کړیو او ناپوهانو له لورې منظم تمسخر، قصدي سپکاوي، ښکاره دښمنی او ملنډو پورې رسېدلی دی، دا کار به لکه وړاندې چې ځینو تنګ نظره ایرانیانو او انګریزانو کوو اوس یې د همدې خاورې ځینې ناروغ، متعصب او هویت‌بایللي خلک پرمخ وړي.

ارواښاد استاد وزیر محمد ګل خان مومند «بابا» په دې لیکنه کې حقیقت ښکاره وړاندې کوي، وایي پښتو ځکه ګرانه ده، چې له پښتونوالي نه بېلېدونکې ده. څوک چې پښتو نه غواړي، په اصل کې پښتونولي نه غواړي، څوک چې پښتو سپکوي، د غیرت، حیا، عزت او انساني کرامت پر ضد درېږي.

مومند بابا وایي پښتو یوازې لغت، ګرامر او ژبه نه ده، پښتو غیرت دی، پښتو حیا ده، پښتو صداقت دی، پښتو مېړانه ده، پښتو زغم دی، پښتو انسانیت دی او دا ټول ارزښتونه د هر چا د وس کار نه دي.

دا لیکنه د ژبې له پولې اوښتې ده؛ او د سیاسي، اخلاقي او هویتي دریځ بڼه خپلوي، دا د ذهني استعمار پر وړاندې مبارزه ده، هغه مبارزه چې هدف یې د پښتو د سپکاوي له لارې د پښتون کمزوري کول دي. وزیر بابا ډېر مخکې دا درک کړې وه، چې د یو ملت د ماتولو لپاره ژبه تر ټولو اسانه لار ده، ځکه نو هغه لیکي، چې پښتو د اسانه ژوند ژبه نه ده؛ پښتو د قرباني ژبه ده.

دې لیک کې د ښځې، سړي، کورنۍ، اخلاقو، ټولنې، نفس، ناموس‌پتیا او مېړانې ترمنځ فلسفي، ټولنیز او ژور تحلیل شوی دی. وزیر بابا په ډېره روښانه وایي، چې ولې بې‌اصولي، بېغیرتي، ځانسپارنه او بېړینېتوب اسانه دي، خو اصول، وقار، عفت، زحمت، قناعت او ناموس ساتل ګران دي؛ نو ځکه پښتو ګرانه ده او دا د عزت ژبه ده.

وزیر بابا د ښځې او سړي، ناموس‌پتیا او مېړانې مثالونه ځکه راوړي، چې وښيي اخلاق، حیا، کار، زحمت او ځانساتنه تل ګران وي.

نن چې ځینې خلک پښتو «سخته»، «بېکټې» او «ناسمه» بولي، باید تري وپوښتل شي، ولې انګریز، روس، اروپایي او امریکایي پښتو زده کولی شي؛ خو ته چې زما وطندار یې او زما سره په وطن کې د شراکت ادعا کوې، نه یې شي زده کولی؟
دا لیکنه نن ځکه بیا خیرېږي، چې نن د پښتو ویاړلې ژبې پر وړاندې ستم خپل اوج ته رسېدلی دی. دا یوازې ژبنی بحث نه دی؛ دا د واک، سیاست او هویت جګړه ده. کله چې یوه ژبه له رسمي، تعلیمي او فرهنګي ډګر څخه وایستل شي، ورپسې انسان هم سپکېږي. دا یو ازمویل شوی استعماري فورمول دی.

د یادونې وړ ده چې د ارواښاد پتمن او ویاړلي ستر پښتون وزیر محمد ګل خان مومند بابا د «پښتو ګرانه ده» متن په خپل پخواني لیکدود پرېښودل شوی، ځکه چې د متن ژبنی جوړښت، اصطلاحات او سبک د وزیر محمدګل خان مومند بابا فکري او تاریخي ملکیت دی، په دې کې بدلون کول به د متن پر روح تېری وي او دا د وزیر بابا له علمي، ادبي او تاریخي حق سره په ټکر کې دی.

د ارواښاد مومند صیب د «پښتو ګرانه ده» لیک د بیاکتنې درونډ کار د هېواد وتلي لیکوال او څېړونکي استاد محمد اصف «بهاند» ترسره کړی. دا یو ستر فرهنګي خدمت دی، چې د پوره قدر، درناوي او درنښت وړ دی، داسې څېړې د ملت فکري حافظه ژوندۍ ساتي.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

همدا راز د وزیر محمد ګل خان مومند «بابا» د ځوانی نایابه انځور چي له دې لیک سره یو ځای خپور شوی، د سمبول ارزښت لري. دا د هغه نسل ښېره ده، چي ژبه يې د واک وسیله ګڼله، نه د شرم بار. انځور یوازې لږ روښانه شوی، نور پر خپل حال پرېښودل شوی، ځکه تاریخ باید ښکلی نه، بلکي ریښتینی پاتي شي.

نن ټول پښتانه مکلف دي چي د وزیر بابا لاره خپله کړي. پښتو باید یوازې شعار نه وي؛ عمل باید وي. پښتو په کور، ښوونځي، دفتر، سیاست او فکر کي ژوندي ساتل غواړي. که موږ د وزیر بابا لاره پرېږدو؛ نو دا ژبه به نه مري، خو موږ به د تاریخ په قضاوت کي بېنومه شو.

پښتو باید وواېو، پښتو باید ولیکو، پښتو باید ولولو، او پښتو باید ژوند کړو. دا یوازې احساساتي خبره نه ده؛ دا د بقا خبره ده.

او هغو ستمیانو، قومي سوداګرو او ژبني دښمنانو ته چي نن يې پښتو درنې او د قدر ژبې پسې راخیستې، دا باید په ښکاره وویل شي؛ پښتو تر تاسو ډېره پخوانی ده، تر تاسو ډېره ژوره ده، او تر تاسو ډېره درنه ده. تاسو به لاړ شئ، خو پښتو به پاتي کېږي.

دوی باید پوه شي پښتو د تاریخ په محک کي تل درنه پاتي شوې ده. دا ژبه د وختونو تورو څپو، ناخوالو، توپ، زندان، تبعید او دار پر وړاندې نه ده ماته شوې؛ نو د څو ناروغو او سپکو خولو پر وړاندې به څنګه ماته شي؟ پښتو ګرانه ده؟ هو، ګرانه ده؛ خو دا ګرانی د عزت بیه ده او عزت تل د ارزانه خلکو کار نه وي.

پښتو وایئ!<br>
پښتو لیکئ!<br>
پښتو لولئ!

مخ پر وړاندې د پښتو ژبې د بډاینې او پرمختګ په هیله!

دا هم د ارواښاد ستر پښتون وزیر محمد ګل خان مومند «بابا» لیک:

***



## پښتو ګرانه ده!

لیکوال: ښاغلی ستر پښتون محمدګل خان مومند

ځیني وايي چي پښتو ګرانه ده هو! کېدای شي، چي پښتو دې ګرانه وي؛ خو هغه چاته چي پښتون نه وي لیا پښتو يې پرېښې وي او پښتنوالي نه وتلي وي او نه غواړي، چي زده يې کړي او پښتون شي او ورسره ورانه يې وي او ترېنه بده مني!

د نړۍ ټولي ژبې به اساني وي؛ خو یواځې پښتو به ګرانه وي!

پښتو به انګریزانو، روسانو پولېنډو ناروېژو او نورو اوروپائیانو امریکاییانو او نورو ته به چي غواړي زده يې کړي اسانه به وي او زده کولی به يې شي.

حتی چي هالته خپل وطنونو کي به يې زده کړي وي او دلته چي راشي موږ سره به په پښتو ګړېږي؛ خو ځینو هغه کسانو ته چي دلته راسره اوسېږي ګرانه به وي.

هو کي! رښتیا ده چي پښتو ګرانه ده کیرکیچو اسانه ده.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ

په لړو او څو مختصرو الفاظو او کلماتو او په مختصر صرفیه او نحویه قواعدو يې له ډېره فصاحته او بلاغته بې له دې چې ښځه او نر او ساهو او بې ساه سره بېل شي په کېړکیچو یو له بله سره خبرې کول؛ خود اسانه دي مګر د خپل مطالبو د ادا کولو د پاره په زرګونه څه چې حتی په سل زرګونه لغات او الفاظ او کلمات زده کول او یو شی په څو نومونو یادول او د مفصل صرفیه او نحویه قواعدو رعایت کول په خورا فصاحت او بلاغت سره خبرې کول ښځه او نر ساهو او بې ساه بېلول البته چې ګران کار دی په دغه خو هر سړی پو هېږي، چې د سمې په نسبت کېړکیچو اسانه ده او کېړکیچو ته سمه ګرانه ده.

هو پښتو ګرانه ده! ځکه چې د پښتو سره پښتنواله تړلې ده او هغه خورا ګرانه ده!

د نفس د ډېرو غوښتنو په مقابل کې درېدل او مقاومت کول ګران دي د اماره پالو نفس ملونی سستول او خوشې کول واګی يې له خولې وېستل او په خپل سر يې پرېښودل چې هر چېرته ځي، ځي دي او هر څه چې کوي، کوي دې اسان کار دی.

هو کې! بيبيتوب ګران دی خو کچنۍ واله خورا اسانه ده هره ښځه هره ګړی، چې وغواړي په هماغه ګړی کوچنی کېدای شي؛ خو ببيي کېدل يې ګران دي ولې چې درست عمر په عفت او عصمت تېرول او د دين اخلاق او پښتو ټول احکام او شرايط منل او د درستو رعايت کول ګران دي سپوره او سوې خوړل، پولۍ او نينې چېچل، لوږه او تنده تېرول، زړې جامې اغوستل تل د کاله په کار بوخت هوسېدل، پخلی کول لوښي او نور کالي پاکول، ګنډل، رېشل، ووبدل، جامې پرې مينځل کور او انګړ رېږ کول د کاله هر شی سمبالول ترتيب او انتظام ساتل واړه روزل او پښتانه يې لويول.

هر ډول ګرانو ته غاړه ايښودل، اتيتې او صبر کول، قناعت کول او د کاله نه نه وتل د مور او پلار، د کاله او کلي د کهول او کام او د خپل مسلمان او پښتانه مېړه پت په ځای کول، نوم ساتل رښتيا چې ګران کار دی.

نامېرتيا هر ګوره اسانه ده هغه د هيچا نه نده تللې اونه ځي هره ګړۍ چې څوک وغواړي هغه څه چې سړي ته په خوله نه ورځي کولی شي پرې ښه به خوري، ښه به څکي ښه به اغوندي، ښه به ګرځي، ګرندی ګاډی به ځغلوي، ښو کوټو او کوټيو او مانيو کې به کښېني، ښو تلتکو کې به څملي او پيسې به هم ګټي؛ خو مېړه کېدل، ستړيا منل، کارکول، ځان ستړی کول، لاسونه او پښې تناکې کول، لوږه تنده، تودوخه، سړوښه، بېخوبتيا، محروميتونه تېرول، هېر چېرته او هر چاته نه تلل، چاته اسره او اړينه نکول، چاته غاړه نه کږول، د چانه څه نه غوښتل د ژوندانه ټولې ګرانې په لوی زړه ځغمل او اقتحامول، غيرت کول، شرم کول، همت لګول، بدرنګی ته غاړه نه ايښودل خپله حيا خپل نوم او ناموس ساتل، مال ښندل، ننګ پرځای کول، ځان ژوبلولو په وينو کې رغښتل نوم ګټل او خپل وروستنو ته پيغور نه، چې حتی ښه نوم او ښه نښه پرېښودل زښت ډېر ګران کار دی، پښتو سړيتوب او انسانيت دی حقيقي سړيتوب او انسانيت ډېر قيد او قيود لري. د اخلاقو د قيودو لاندې ټول عمر تېرول ګران کار دی د حقيقي او رېښتني انسانيته د قيودو څخه وتل اماره پالوء نفس هر څه چې وغواړي هغه کول بې شرفي بې شرمي بې حيايي رذالت سفالت بدرنګي بداخلاق هرڅه منل اسان کار دی؛ نو ځکه پښتو ګرانه ده او بې پښتوتوب اسان کار دی.

پښتو ګرانه ده؛ خو نامېړه خلکو ته ګرانه ده هغه څخه چې نامېړه خلکو ته اسان دي مېړه او پښتانه ځامنو ته دومره ګران دی، چې هغوی ته پښتو لا دومره نه ده ګرانه مړينه سل ځله پرې ښه او اسانه ده همدغه ګرانه او همدغه پښتانه، چې درانده وړې خوراک يې ځوز وي، چې دغې نړی کې نوم او هغې کې نعم غواړي البته چې دغه ګرانی به هم مني او هم به يې تېروي؛ نور دې اسانو پسې ګرځي؛ خو دغومره دې کوي، چې په پښتنو دې ځانونه نه ستړي کوي.

پای

---

یادونه: دا ليکنه د کابل مجلې، ۲۰ کال ۲۷۱ ګڼه د ۱۳۲۹ شهـ کال د سنبلې( ۱ ) د ۱۳۶۹ قهـ کال د ذيقعدهالحرام(۱۱) د ۱۹۵۰ع کال د اګست ۲۴مې ګڼه کې هم خپره شوې.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ